مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۱۳مه | د ۲۰۲۰ د فبروري دویمه | ۵۰۶مه گڼه

# د سولې او جګړې خونړۍ لوبه؛

## ډیلي بیسټ: د طالبانو د بریدونو ډېربدل، د امریکا د ناکامۍ په مانا دي



۳

وحشیانه بمبارۍ؛
ایا د سولې مخالفین بریالي کېږي؟
۲ مخ

فلسطین؛ د پېړۍ معامله!
۲ مخ

احساس ارزشمندی چیست و چطور می‌توانیم آن را تقویت کنیم؟
۵ مخ

## شاهین: د امریکا تازه غوښتنې د سولې پروسې د ځنډ لامل شوې دي

د طالبانو د قطر سیاسي دفتر ویلي، له امریکا سره مذاکرات ځنډېدلي او د سولې روانه پروسه په ټپه ولاړه ده.
د طالبانو د مرکچي پلاوي غړي سهیل شاهین له امریکا غږ سره په خپله تازه مرکه کې ویلي، د هوکړې لاسلیک پر مهال د خوندي چاپېریال پر برابرولو باندې سلا شوې وه، خو امریکایانو نورې غوښتنې مطرح کړې وې.
هغه زیاته کړې: «موږ موافق یو چې د هوکړې د لاسلیک په جریان کې به یو خوندي چاپېریال برابر کړو، خو امریکایانو نورې غوښتنې رامخې ته کړې چې د سولې مذاکراتو کې یې خنډونه را ولاړ کړل.»
دا په داسې حال کې ده چې د امریکا مرکچي پلاوي په ځلونو د مذاکراتو په جریان کې طرحې بدلې کړې او په دې وروستیو کې چې دواړو لورو د تاوتریخوالي پر کمولو هوکړه کړې، امریکا د اوربند غوښتنه هم کړې ده.
په ورته وخت کې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد له اسلام اباد وروسته کابل ته را رسېدلی چې د سولې په پروسه کې د تازه پرمختګونو په تړاو له افغان سیاسي جهتونو او حکومت سره مشورې وکړې. طالبانو ته نږدې سرچینو ویلي، امریکایان په یو ډول د افغان سولې په بهیر کې د عامه ذهنونو د مغشوشولو هڅې کوي، خو د ډونالډ ټرمپ له محاکمې وروسته به د سولې توافقنامې لاسلیک او ځای په برخه کې پرمختګ وشي.

شکایتونو کمېسیون:

## ډېر ژر به د استیناف غوښتنې د ینځو مواردو په تړاو پرېکړه وشي



۳ مخ

پوهنتون
۴ مخ

## ملي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د تضمین کیفیت له ارزونې څخه بریالي راوتل، په ملي او نړیواله کچه د اعتبار تر لاسه کول، د نویو پوهنځیو ایجادول او د لوړو زده کړو له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول د ملي د لوړو زده کړو موسسې د ادارې موخې او راتلونکي پلانونه دي.




کرنې وزارت:

## روان کال په ټول هېواد کې ۲۰ زرو ښځو ته د چرګانو فارمونه جوړ شوي



کرنې او مالدارۍ وزارت ویلي چې روان کال په ټول هیواد کې شاوخوا ۲۰ زرو ښځو ته د چرګانو ساتنې واړه او متوسط فارمونه جوړشوي دي.
د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي ویلي، دوی پلان لري چې په راتلونکي کال کې په ځینو ولایتونو کې د چرګانو د ساتنې ۱۲۰ لوی فارمونه هم جوړ کړي.
هغه زیاته کړې: «روان کال مو ۲۰ زرو ښځو ته د چرګانو د ساتنې واړه او سوداګریز فارمونه جوړ کړي، په راتلونکي کال کې په پلان کې لرو چې په یوشمېر ولایتونو کې ۱۲۰ فارمونه چې هر فارم به له پنځه زره نیولې تر لس زرو قطعو پورې وي، جوړ کړو.»
د کرنې وزارت د معلوماتو پر بنسټ، د افغانستان د چرګانو ساتنې ملي ټولنې د یوې سروې له مخې، دا مهال په ټول افغانستان کې شاوخوا اته زره د چرګانو د ساتنې لوی او واړه فارمونه موجود دي.

سفیر افغانستان در چین:

## محصلین افغان مقیم در شهر ووهان چین قرنطین شده اند



سفیر افغانستان در چین می گوید، محصلین افغان مقیم در شهر ووهان چین قرنطین شده اند، اما آنها به‌طور دوامدار با تمام محصلین در تماس استند.
جاوید قایم سفیر افغانستان در چین به رادیو آزادی گفته است که آنها از وضعیت محصلین افغان در ووهان آگاهی دارند و در مورد انتقال آنها به افغانستان هم صحبت کرده اند، ولی به‌خاطر بعضی ملحوظات این کار به‌تاخیر افتاده است.
قایم اظهار داشته است که در مورد انتقال جوانان افغان از ووهان با وزارت صحت افغانستان صحبت شده، ولی وزارت صحت عامه افغانستان بعضی نگرانی‌ها دارد.
آقای قایم افزوده است: «وزارت صحت عامه تشویش دارد که اگر ما آنها را انتقال بدهیم و اگر در بین آنها کسانی باشند که ویروس را حمل می کنند به افغانستان بیایند، در آنجا کنترول ویروس کار مشکل خواهد بود.»
شهر ووهان چین مرکز سرایت ویروس کشنده بنام کرونا می‌باشد. این ویروس که بر جهاز تنفسی حمله می‌کند حتی به بعضی از شهرها در کشورهای دوردست غربی مانند فرانسه، امریکا و همچنان عربستان سعودی و آسترالیا رسیده است.
امریکا و کشورهای غربی بر سیر و سفر سیاحان شان به چین ممانعت وضع کرده و بعضی از شرکت‌های هوایی امریکایی و غربی پروازهای خود را به چین متوقف می کنند. روز گذشته حکومت پاکستان هم اعلام نمود که پروازها به چین را متوقف خواهد کرد.

Aksos Book Stote
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ
Aksos
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
Aksos Book Store
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
0798-98-9696, 0202504652

## درېځ

### وحشيانه بمباری؛ ايا د سولې مخالفين بريالي کېږي؟

له يوه ځنډ وروسته يو ځل بيا د هوايي بريدونو او بمباريو يوه نوې وحشيانه څپه پيل شوې ده. يوازې په يوه اونۍ کې شپږ – اووه هوايي بريدونه شوي چې پکې لسگونه ښځې، ماشومان او نور بې گناه وگړي شهيدان شوي دي. په بلخ کې د يوې کورنۍ اووه غړي، په کندوز کې هم د يوې کورنۍ اووه غړي، په زابل کې پنځه ښځې او ماشومان، په بادغيس کې د يوې کورنۍ څلور ماشومان او يوه ښځه او په غزني کې يو بزگر په يوه اونۍ کې د گڼو ځواکونو په هوايي بريدونو کې شهيدان شوي دي. دغه راز گڼو ځواکونو ورمه شپه په وردگو کې يو مسجد او څلور کورونه هم نړولي دي.

حکومتي چارواکي له ځينو پېښو يو مخ انکار کوي، ځينو پېښو ته د پلاوو د ټاکلو او څېړنو خبره کوي چې مانا يې د خلکو په سترگو کې د خاورو شيندل او د احساساتو کمول دي. د حکومتي چارواکو د چوپتيا ډول داسې دی لکه دا هر څه چې د دوی په خوښه کېږي او دوی د ښځو، ماشومانو او نورو بې گناه وگړو له وژلو خوند اخلي او يا هم وژل کېدونکي ماشومان او ښځې ورته افغانان او انسانان نه ښکاري.

د وژنو دا څپه له هغه وروسته را پيلېږي چې څو مياشتې يوه نسبي ارامي وه. نه په کلو او بانډو کې هوايي بريدونه کېدل او نه هم په ښارونو کې چاودنې او ځانمرگي بريدونه. که څه هم په رسمي ډول د امريکا او طالبانو تر منځ د تاوتريخوالي د کمولو اعلان نه و شوی، خو په عملي ډگر کې تاوتريخوالی کم شوی و او خلک له دې امله خوشاله وو. له بده مرغه د دې نسبي ارامۍ او د خلکو د خوښۍ دښمنان ارام نه وو، بلکې پرله پسې يې هڅه کوله چې حالت بېرته شاته وگرځي او بيا وژنې او وحشت زور واخلي. له همدې امله دوی په شدت سره هڅه کوله چې نفرت خپور کړي، د سولې پر ضد هڅې وکړي او روانې خبرې ناکامې کړي. که څه هم د سولې خبرو د ناکامۍ په اړه لا وختي دی چې ادعا يې وشي، خو د جنگ شوقيان او وحشيان بريالي شوي چې بېرته جنگي فضا پياوړې کړي. د جنگ او وحشت پلويان په حکومت کې د ننه دي او له بده مرغه په زور او ځواک کې هم دي. دغه راز په امريکايي اړخ کې هم د جنگ پلويان شته او ښکاري چې اوس دوی برلاسي دي.

د جنگ دا پلويان چې د خپل واک د دوام او شخصي گټو لپاره يې د سولې مخالفت کاوه، د دغو ټولو جنايتونو شريکان دي. دوی زموږ د ښځو، ماشومانو او نورو بې گناه وگړو قاتلين دي. دا سمه ده چې دوی نه له خدای او نه له ولس څخه وېرېږي، خو دوی دې نه هېروي چې د دې هر څه حساب به ورکوي. دا وحشيان او د جنگ او قتل شوقيان به د دې مظلوم ولس له حساب او کتاب سره مخ کېږي. دغه وحشيان ښايي د جگړې د خاتمې په برخه کې خنډونه جوړ کړي، خو هېڅکله د خلکو د دې سترې هيلې مخه يو مخ نه شي بندولی. له همدې امله دوی دې د حساب او کتاب انتظار کوي.

# فلسطين؛ د پېړۍ معامله!

ليکنه: وحيدالله مصلح

د مسلمانانو د انحطاط زمانه دا مهال د خپل ځوړې په ژوره کې پرته ده، کله چې انسان د تمدني مثلث په تاريخي فلسطين کې د عيسوي امريکا او يهودي اسراييلو ښکېلتيا او ملگرتيا گوري، نو دا د روانې جگړې پر تمدني او هويتي وجود تر ټولو لوی شاهد دی، له بده مرغه د دې سيمې په دغه هويتي جدول کې د فلسطين رسمي چارواکي او د دې قضيې عربي گاونډ بيا له خپل تاريخ او هويت څخه په فراغ کې په سيکولار مخ د تقابل وړتيا نه لري، ارزښتي جگړې پر ارزښتي بنيادونو او خلفيې تر سره کېږي، پر تاريخي اړيکو او هويتي مراجعو تر سره کېږي او دا کشمکشونه په خپل تمدني شناخت او انفراديت گټل کېږي، خو دا ټول عربي هيوادونو او ډيکتاتورو کودتاچيانو د غرب په چاکرۍ کې بايللي او يوازې د سيمې اسلامپالي جريانونه دي، چې پر يادو هويتي بنيادونو يې اسراييلو ته سرخوږی جوړ کړی.

د همدغو مزدورو قيادتونو په سرپرستۍ کې اسراييل په څو بېلابېلو مرحلو کې فلسطين غټ غټ تېر کړ. اسراييل لومړی ځل په ۱۹۴۷ او دويم ځل په ۱۹٦۷ ز کال کې د فلسطين ځمکې په لويه پيمانه غصب کړې، د پېړۍ معامله يې درېيمه مرحله ده او په دې مرحله کې يې خپلو ټولو مخکنيو تېريو ته قانوني بڼه ورکړه او فلسطينيان يې دا ځل د هغه لويې فلسطينۍ خاورې په دوو- دريو کوچنيو جزيرو کې را ايسار کړي.

**د پېړۍ معامله، يانې څه؟**

د امريکا د ولسمشر زوم جرډ کوشنر، د منځني ختيځ لپاره د امريکا ځانگړی استازی جيسون گرين بلټ او په اشغال شوي فلسطين (اسراييل) کې د امريکا سفير ډېوېډ فرېډمن د فلسطين لپاره د پېړۍ معامله يا جوړجاړی رامنځ ته کړی، په دې طرحه کې به فلسطين ته نوی فلسطين ويل کېږي او اسراييل ته په کې يو سخاوتمندانه وړانديز تقديم شوی چې په لاندې ډول دی:

**لومړی:**

بيت المقدس به د اسراييلو پايتخت وي، په داسې حال کې چې د ملگرو ملتونو د پخوانيو پرېکړو له مخې به شرقي بيت المقدس د دوه دولته طرحې له مخې د فلسطيني دولت پلازمېنه وي، خو د نوې معاملې له مخې به ټول بيت المقدس د اشغال شوي فلسطين پلازمېنه وي.

**دويم:**

فلسطين به په جلا جلا جزيرو کې ايسار وي، دغه جلا جزيرې د يهودي ښارگوټو په واسطه سره جلا شوي او فلسطينيان به خپلو دغو جلا جلا برخو ته د ځمکنيو تونلونو او يا هغو پلونو له لارې ځي، چې پر اسراييلو به تېرېږي. غزه او باختري ساحل به د ځمکني تونل په واسطه سره وصل کېږي، اټکل دی چې د دې تونل اوږدوالی به ۳۴ کيلومتره وي.

**درېيم:**

فلسطين به پوځ نه لري، يوازې پوليس به لري او دوی به تنها سپکې وسلې لري. د دې معاملې له مخې به اسراييل د بهرني تيري په مقابل کې د فلسطين دفاع کوي او د دې دفاع په مقابل کې به اسراييلو ته قېمت ورکول کېږي، ښايي دا قېمت هم د خليج هېوادونه پر غاړه واخلي.

**څلورم:**

د فلسطين هغه لويې برخې چې اشغالگرانو په کې له مخکې په ناقانونه ډول يهودي ښارگوټې جوړ کړي، د دې معاملې له مخې به په رسمي او قانوني ډول له فلسطين څخه واخيستل شي. په دې ډول به هغه يهودي ښارگوټي چې په د فلسطينيانو په خاوره کې جوړ شوي، هغه به نه رنگېږي، ۱۵ داسې يهودي ښارگوټي دي چې د فلسطين په اوسنۍ خاوره کې جوړ شوي، د نوې نقشې له مخې به دا په فلسطين کې د اسراييلو تر حاکميت لاندې وي او اسراييلو ته به د دې ښارگوټو يهودان پر هغو سړکونو ځي، چې امنيتي چارې يې له اشغالگرانو سره وي.

**پنځم:**

مصر به فلسطين ته له غزې سره په خوا کې د هوايي ډگر، کارخونو او کښت لپاره ځمکه ورکوي.

**شپږم:**

فلسطين به د اسراييلو په محاصره کې وي، يوازې به له مصر سره ۱۲ کيلومتره سرحد ولري، سره له دې چې فلسطين له اردن سره د اردن سيند له لارې سرحد لري او همدا ډول د مړه سمندر څلورمه برخه د فلسطين باختري ساحل برخه ده، خو په نوې نقشه کې به فلسطين له اردن او مړه سمندر سره پوله ونه لري؛ داسې چې د اردن او فلسطين او همدا راز مړه سمندر او فلسطين تر منځ وار له مخه اسراييل په ناقانونه ډول يهودي ښارگوټي جوړ کړي، فلسطين به له اردن سره د دوو پلونو (امير حسين او امير محمد) له لارې وصل کېږي چې د اسراييلو له خاورې به تېرېږي.

**اووم:**

د نوي فلسطين د طرحې لومړيو پنځو کلونو لپاره ۳۰ ميلياره ډالر په پام کې نيول شوي دي، د دې ډالرو ۲۰ سلنه به امريکا، ۱۰ سلنه اروپايي اتحاديه او ۷۰ سلنه به د خليج هېوادونه ورکوي.

**اتم:**

سره له دې چې غزه له مديترانې سمندر سره پرته ده، خو دلته به کوم سمندري بندر نه وي او پر ځای به يې فلسطينيان د اسراييلو د حيفا او اشدود له بندرونو گټه اخلي.

**د پېړۍ معامله؛ دوه مهم وضاحتونه!**

**لومړی؛ بې ثباته اسلامي نړۍ**

د پېړۍ نوموړې معامله چې د پرانيستنې لپاره يې د اسراييلو صدر اعظم نيتنياهو د سپينې ماڼۍ مېلمه و او د اسراييلو د اپوزيسيون مشر گانتس هم واشنگټن ته غوښتل شوی و، په داسې مهال تر سره کېږي چې اسلامي نړۍ د خپل ژوند په خورا بدترين حالت کې واقع ده، له يوې خوا اسلامي هېوادونه د بهرنيو تيريو او توطيو له امله له شخړو او بې ثباتيو سره مخ دي، له بلې خوا په ډېری هېوادونو کې ډيکتاتورو واکمنانو د خپل ولس سوله ييز سياسي حضور ځپلی، وژلي يې دي او زندانونه يې پرې ډک کړي، دوی سوله ييز مزاحمتونه په گرمو وسلو ځواب کړي او ولسونه يې اړ کړي چې له خپلو ځانونو څخه د دفاع په خاطر وسله وال قيام وکړي. ليبيا، سوريه او يمن د دې ناکراريو ژوندي مثالونه دي، د مصر پر منتخب ولسمشر محمد مرسي د پوځ کودتا او هلته د بيان، رايې او لاريون پر ازاديو پابندي بل هغه لوی واقعيت دی، چې اسراييل، امريکا او اروپا يې په طرحه، تاييد او ستراتيژيکې حمايې کې پاتې شول. په اسلامي هېوادونو کې مالي بحرانونه او سياسي کړکېچونه دواړه د اقصی او فلسطين له قضيې سره تړلي دي، که اسلامي هېوادونه په ثبات کې وای او وگړي يې په نس ماړه وای، نو نن به د قرن د معاملې پر وړاندې اسلامي نړۍ قهر څپه وای.

**دويم؛ د اسراييلي جنايتونو قانونيت**

اصلاً د پېړۍ معامله د هغو تر سره شويو تېريو لپاره قانوني سند دی، چې اسراييلو په تېرو اوږدو کلونو کې په فلسطين کې نړيوالې معاهدې ماتې کړې او د فلسطينيانو پر وړاندې يې جنايتونه تر سره کړي دي. داسې نه ده چې گنې اسراييل په تېرو کلونو کې خاموش وو او ننداري يې کولې، بلکې هغوی چې نن د کومې معاملې له نيم مخ څخه نقاب لرې کوي، دا ټولې کړنې اسراييلو په خپلو پخوانيو ماسټر پلانونو کې طرحه او تطبيق کړې دي. دا چې دا ټولې کړنې د ملگرو ملتونو او امنيت شورا له پخوانيو پرېکړو سره په ټکر کې دي او نړيوال فورمونه اسراييل د فلسطين پر سيمو د تيريو له امله پړ بولي، نو د اسراييلو لپاره دا ډېره مهمه ده چې فلسطين داسې يوې معاهدې ته راوبولي، چې هم په کې د اسراييلو جنايتونه نور جنايتونه پاتې نه شي او هم په کې فلسطين په دغه مظلومه او لنډه تنگه جغرافيه کې يا د پېړۍ دا ننگينه معامله ومني او يا د امريکا راتلونکو اقتصادي شديدو محاصرو او د اسراييلو پرله پسې بې رحمه نظامي حملو ته اماده شي.

اسراييل په لنډه ماضي کې د فلسطين د سيمو په منځ کې يهودي ښارگوټي داسې جوړ کړي، چې له يوې خوا يې د فلسطين بېلابېلې سيمې يو له بله جدا کړې او تر منځ يې يهودان مېشت شوي او له بلې خوا يې د فلسطين او اردن په منځ کې هم سرحد نه دی پرېښی. که چېرته فلسطيني واکمن او سياسي جهتونه له دې سند سره توافق وکړي، نو بيا به دا سند دغه ټول پخواني اسراييلي جنايتونه مشروع کړي او د پېړۍ معاملې په جزياتو کې راتلونکي جنايتونه به هم قانوني مبنا پيدا کړي.

**د پېړۍ معامله او عرب هېوادونه**

د عثماني خلافت تر سقوط وروسته، عربي هېوادونه د فلسطين په قضيه کې د اسراييلو او امريکا په خدمت کې دي، دوی په خپلو هېوادونو کې هغه ملي او اسلامي شخصيتونه او گوندونه چې په ارزښتي بنياد له اسراييلو سره د تقابل روحيه او وړتيا لري، خوار سانسور او ځپلي دي، د دې ځپنې لومړۍ موخه په سيمه کې د ازادۍ غوښتنې لوی علمبردار تحريک اخوان المسلمين دی، مصر د دې ځپنې اصلي مرکز دی او هلته تل پوځي کودتاچيان په واک کې دي، دغسې ډيکتاتورۍ او سيکولار واکمنۍ امريکا په خورا شوق حمايه کړې دي. مصر يوازينی هغه هېواد دی چې له فلسطين سره د غزې په اوږدو کې سرحد لري، دا چې دوی تل اخوان ټکولی، يو لوی علت يې په دغسې حساس گاونډ کې له واکه د يوه تمدني او ازادي غوښتونکي اسلامي حرکت لرې ساتل دي. که په مصر، اردن، سوريه او نورو عربي هېوادونو کې اسلامي حرکتونه بري ته رسېږي، دا په دې مانا چې دوی به په فلسطين کې د اشغال پر ضد د ازادۍ قضيه د يوې بشري اړتيا له مخې حمايه کړي او اسراييل به د خپل اشغالي حضور او د پېړۍ له معاملې سره يو ځای مړه سمندرگي کې ډوبېږي. دا هغه ستراتيژيک خطر دی چې اسراييل او امريکا پرې پوهېږي او د همدې لپاره دوی په عربي نړۍ کې د ولسونو د خوښې قيادتونه او په سر کې اسلامي حرکتونه واک ته نه پرېږدي او هلته يې د خپلو لاسپوڅو ډيکتاتورانو واکمنۍ خوندي کړې دي.

سعودي او متحده عرب امارات دوه نور ډيکتاتور او ملوکي هېوادونه دي، دوی يوازې ملوکي نه؛ بلکې د تاريخ په اقتدا مماليکو ته ورته هم دي، که په سيمه کې د امريکا حمايه نه وي، د دوی گرېوانونه به د خپلو ولسونو په لاسونو تار تار وشکېږي، له همدې امله په دغو هېوادونو کې ولسونه د نظر، رايې او تنقيد له انساني حقونو څخه خورا محروم دي، په دې دواړو ډيکتاتورو هېوادونو کې د اسلامي حرکتونو فعالان په خورا شکنجو کې ژوند تېروي. د اماراتو زندانونه د اخوان المسلمين پر غړو او خواخوږو ډک دي او په سعودي کې زندانونه پر حقاني علماوو. د اماراتو او سعودي ډيکتاتور شاهي دولتونه پر خپلو ولسونو له دغسې ظلمونو څخه ور هاخوا، له اسراييلو سره پر پټو يارانو اخته دي. داسې ويل کېږي چې تر دې وروسته به اسراييلي وگړي کولای شي چې سعودي ته پر اسراييلي پاسپورټونو ولاړ شي، له دې علاوه سعودي له امريکايانو غواړي چې په سعودي کې نظامي اډه جوړه کړي او د دې نظامي اډې قېمت به هم دوی امريکا ته پرې کوي.

**د پېړۍ معامله؛ د فلسطين غبرگون**

کله چې په سپينې ماڼۍ کې ټرمپ د پېړۍ له معاملې پرده پورته کوله او بيت المقدس يې نتنياهو ته سپاره، له دې مراسمو څو ساعته مخکې د حماس يو مشر اسماعيل هنيه د فلسطينۍ ادارې له مشر محمود عباس سره وغږېد او دواړو مشرانو وار له مخه د پېړۍ معامله رد کړه، دوی پر مشترکو موقفونو ټينگار وکړ او پر دې سلا شول چې د فلسطيني گوندونو مشترک مجلس به راوغواړي او له دې معاملې سره د مقابلې پر څرنگوالي به بحثونه وکړي.

د پېړۍ د معاملې تر اعلان وروسته، د حماس يو بل مشر سامی ابوز هری د پېړۍ معاملې په اړه وويل، چې دا خصمانه طرحه ده او د بيت المقدس په اړه د ټرمپ وړانديزونه مزخرف دي، بيت المقدس به تل د فلسطينيانو خاوره وي او فلسطينيان به د دې طرحې مقابله وکړي. نوموړي وويل چې د ټرمپ خصمانه خبرې به دا جنگ نور هم په لمبو کړي.

په روان پېر کې د ملتونو د ازادۍ غوښتنې ټولې لويې داعيې له اسلاميونو سره دي، همدا اسلامپالي دي چې د اشغال پر ضد د خپلو ملتونو پر بسيج بوخت دي، ازادۍ گټي او تاريخ جوړوي. په فلسطين کې هم ورته قضيه ده، هلته چې د دوی په گاونډ مصر او لرې لرې خليج کې اخواني حرکتونه په زندانونو کې دي، دلته په فلسطين کې بيا همدغه اسلامپالی حماس د ازادۍ پر جگړه بوخت دی، د حماس نظامي څانگه قسام حتی د پېړۍ معاملې تر رسمي اعلان لږ وروسته په نظامي يونيفورم کې د خپل يوه سرتېري له عکس سره وليکل، چې د پېړۍ معامله به هېڅکله اجرا نه شي. حماس او نورې اسلامي ډلې په داسې مهال له اسراييلو سره تقابل کوي چې له مرحوم ياسر عرفات څخه وروسته فتح سازمان د ازادۍ پر مزله ستومانه شوی، د فلسطين د ازادۍ داعيه اوس له حماس سره ده او ولس پرې باور لري.

**د پېړۍ معامله؛ څه بايد وشي**

د نړۍ ځواکمنې سياسي حکومتولۍ اوس په رښتينې ډول هويتي شوې دي، د امريکا ټرمپ يې په لوړه کچه مثال دی او په منطقوي سياسي تحولونو کې د مودي مسلمان ضد سياستونه د همدغسې هويتي تشخصونو هندو ميلان دی، چې په سيمه کې د نظرياتي او عقيدوي کرښو پېږوالی رامنځ ته کوي. خو د ارزښتي او متعهدو حکومتوليو په خلا کې بيا اسلامي هېوادونه د فلسطين له قضيې سره پردي دي. له همدې امله دا ډېره حياتي ده چې په اسلامي هېوادونو او په ځانگړي ډول عربي هغو او مصر کې اسلاميون د سيکولاريستانو ځای ونيسي.

تر هغه چې د اسراييلو په شاوخوا جغرافيه کې اسلامي حرکتونه او يا د فلسطين له قضيې سره جوړ رښتيني ملي جريانونه واک ته رانه شي او ملتونه د خپلو حکومتوليو په انتخاب کې په واقعي ډول شريک نه شي، تر هغې به فلسطين همدغسې تش لاسي حماس ته ورپاتې وي. د فلسطين قضيه د اقصی مسجد او اسلامي خاورې په تناظر کې يوازې محلي قضيه نه ده، دا قضيه د اسلامي فکر او ارزښتونو يوه محوري او قرآني قضيه ده، په دې قضيه کې ټوله اسلامي نړۍ شريکه ده، په همدې شريکه اړيکه کې فلسطين د خپلو مسلمانو هېوادونو انقلابي ننگې او حمايې ته اړتيا لري، دا حمايه د اسلامي همکاريو سازمان په کليشه يي اډانه کې نوره متوقع نه ده، د کوالالمپور وروستۍ ناسته يوه هيله بښونکې ناسته وه، خو وېره دا ده چې هسې نه دا کرار مزل او د ټرمپ او نتنياهو دا گرمه يارانه فلسطين له ننگې وباسي.

# د سولې او جگړې خونړۍ لوبه؛

## ډیلي بیسټ: د طالبانو د بریدونو ډېرېدل، د امریکا د ناکامۍ په مانا دي



د سولې له خبرو سره هممهاله خونړۍ جگړې په افغانستان او سیمه کې اندېښنې راولاړې کړې دي. سیگار تازه په یوه راپور کې ویلي چې طالبانو هم د سولې خبرې مخ ته وړې، خو هم یې د جگړې په ډگر کې د نورو کلونو په پرتله تاوده او ډېر فعالیتونه لرل. بلخوا مشهوره نړیواله ورځپاڼه ډیلي بیسټ بیا په یوه مطلب کې لیکي، چې پر طالبانو درانه هوایي بریدونه هم کېدل، خو بیا هم دغه ډله بریالۍ وه او دا د امریکا د ناکامۍ په مانا دي. بلخوا داسې راپورونه هم خپاره شوي چې د سولې خبرې تر نامعلومې نېټې ځنډېدلې دي او خلیلزاد هم له اسلام اباده کابل ته راستون شوی دی. بهرنیو او افغان هوایي ځواکونو په وروستیو ورځو کې هوایي بریدونه ډېر کړي چې له امله یې د ملکي وگړو مرگ ژوبله لوړه شوې ده. دوی پر دې باور دي چې په دې توگه کولی شي وسله وال طالبان وځپي، خو تازه بهرنۍ رسنۍ وایي چې هوایي بریدونه یوازې ملکي تلفات اړوي او د وسله والو طالبانو په ځپلو کې گټور نه تمامېږي.

ډیلي بیسټ نشریې په دې اړه یو اوږد مطلب خپور کړی دی. سرچینه په خپل مطلب کې وایي چې امریکایي چارواکي په تېره ډونالډ ټرمپ په افغانستان کې ناکام و او ۲۰۱۹ ز کال د طالبانو لپاره گټور کال و. په مطلب کې راغلي چې پر طالبانو د امریکایي ځواکونو هوایي بریدونه هم ډېر شوي وو، خو دې ډلې ډېر بریدونه تر سره کړل او د جگړې ډگر یې هم تود ساتلی و، نو ځکه هوایي بریدونه گټور نه دي. سرچینه کاږي چې طالبانو په خپلو بریدونو او نښتو کې ۲۳ امریکایي نظامیان وژلي او ۱۹۲ نور یې ټپیان کړي دي.
متقاعد امریکایي جنرال کرېس کولنډا هم د امریکا پر جگړه ییزه ستراتیژي نیوکې کړې دي. هغه ویلي: «امریکا په افغانستان کې هوایي بریدونه ډېر کړل، ټرمپ پخپله دا وغوښتل، دوی فکر کاوه چې په دې توگه به طالبان وځپي یا به یې د سولې خبرو ته وهڅوي، خو دا کار ناکام و، جگړه ییزه تگلاره ناکامه ده.»
دغه امریکایي جنرال ټینگار کوي چې د جگړې پر ځای د سولې خبرې مثبت بدلونونه راوستلی شي. د هغه په خبره، امریکایانو که د جگړې او له نظامي لارو افغان کړکېچ حل کولی شوای، نو هغه مهال به حل شوی و چې واشنگټن په افغانستان کې ۱۰۰ زره سرتېري درلودل.
هغه ټینگار کوي چې د امریکا او طالبانو تر منځ خبرې باید پایلې ته ورسول شي او په دې توگه دې د امریکا اوږده جگړه پای ته ورسېږي. کولنډا وایي: «اوس باید په ډیپلوماټیک ډگر کې موږ بریالي شو. جگړه نتیجه نه ورکوي، هوایي بریدونه پایله نه لري، دا کار جگړه لا اوږدوي او د هېچا په گټه نه ده.»
بلخوا ډیلي بیسټ لیکي چې د امریکا جگړه ییزه تگلاره په افغانستان کې نه یوازې د جگړې په ډگر کې ناکامه وه، بلکې د عامو افغانانو پر ژوند یې هم پوره منفي اغېز کړی دی. د سرچینې په خبره، په افغانستان کې نږدې پنځوس سلنه وگړي غذایي مصونیت نه لري، په کور د ننه کډوالي ډېره شوې ده، د ملکي وگړو مرگ ژوبله اوج ته رسېدلې ده او هر افغان له شته ناامنۍ ځورېږي.
له دې راپورونو سره هممهاله د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړی استازی زلمی خلیلزاد کابل ته راغلی دی. سرچینو یې د راتگ خبر تایید کړی دی او تاکل شوې چې له افغان سیاسیونو سره پر سوله او روان بهیر خبرې وکړي. بلخوا طالبانو بیا ویلي چې د امریکا د نوو او ډېرو غوښتنو له امله د سولې خبرې تر نامعلومې نېټې ځنډېدلې دي. د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین وایي، چې دوی د تاوتریخوالي کمولو ته تیار دي، خو د امریکا غوښتنې ډېرېږي او نوې کېږي.
د افغان جگړې او سولې په اړه داسې مهال دغه راپورونه خپرېږي چې په دې وروستیو کې په بېلو ولایتونو کې هوایي بریدونه ډېر شوي او د ملکي وگړو مرگ ژوبله لوړه شوې ده. په بلخ، کندوز، وردگو او ځینو نورو ولایتونو کې دغو بریدونو عامو وگړو ته مرگ ژوبله اړولې چې سخت غبرگونونه یې هم پارولي دي.

---

# ارگ: د خلیلزاد او طالبانو تر منځ په خبرو کې د پام وړ پرمختگ نه دی راغلی



ولسمشرۍ ماڼۍ ویلي چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد له طالبانو سره د سولې په برخه کې د پرمختگونه په اړه ولسمشر غني ته معلومات ورکړي دي.
تېره ورځ ناوخته د ارگ په فېسبوک پاڼه کې راغلي، په دغه کتنه کې چې ځینو لوړپوړو دولتي چارواکو هم حضور درلود، خلیلزاد له طالبانو او پاکستاني چارواکو سره د خپلو وروستیو خبرو په تړاو ولسمشر غني ته معلومات ورکړي دي.
د سرچینې په خبره، د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي په دوحه کې له طالبانو سره د امریکا د وروستیو خبرو جزیاتو ته په اشارې ویلي، چې د عملي میکانیزم پر بنسټ د اوربند او یا د تاوتریخوالي پام وړ او پایداره کمولو لپاره د طالبانو روښانه ځواب ته چې د افغانستان خلکو او د امریکا حکومت ته د منلو وړ وي، منتظر یو.
خلیلزاد دغه راز زیاته کړې: «له طالبانو سره په خبرو کې د پام وړ پرمختگ نه دی راغلی او هیله لرم په دې برخه کې یوې پایلې ته ورسېږو.» نوموړي همدا راز له پاکستاني چارواکو سره د خپلو کتنو په اړه معلومات ورکړي او ویلي یې دي چې له دوی سره یې پر سوله سربېره، په پاکستان کې د مېشت افغان کډوالو د وضعیت په اړه هم خبرې کړې دي.
د خلیلزاد دغه څرگندونې داسې مهال دي چې تر دې وړاندې د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي وو چې د امریکایي اړخ د پرله پسې غوښتنو له کبله دغه خبرې په ټپه درېدلې دي.

# شکایتونو کمېسیون: ډېر ژر به د استیناف غوښتنې د پنځو مواردو په تړاو پرېکړه وشي

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ویلي، خپل فعالیتونه یې د استیناف غوښتنې د پنځو مواردو پر ارزونې متمرکز کړي، چې ۳۰۰ زره جنجالي رایې پکې شاملې دي.
په دغو مواردو کې له ټاکلي وخت څخه بهر ۱۰۲ زره رایې، ۱۰۷ زره مشکوکې، ۲۴۲۳ محلونه، له یوې تر پنځو پورې د بایومټریک د پاڼو په پایلو کې تفاوت او له ٦ رایو پورته له اطلاعاتو سره د بایومټریک په رایو کې تفاوت شامل دی.
د دغه کمېسیون غړي قاسم الیاسي ویلي، د دغو پنځو مواردو په اړه د تصمیم نیونې نظریات سره نږدې شوي او په اړه به یې تر راتلونکو دوو ورځو تصمیم وروستی شي.
هغه زیاته کړې: «ذهنیتونه نږدې شوي، انشاءالله ډېر ژر به د پرېکړو شاهدان اوسو، که پر دغو مواردو پرېکړه وشي، ۹۵ فیصده کارونه به مو پای ته ورسېږي، موږ د افغانستان له خلکو سره چې ډېر انتظار یې و ایست، ژمنه کوو چې له قانوني نېټې نه به یې مخکې په اړه پرېکړه وشي.»



خو د دغه کمېسیون ځینو سرچینو ویلي، پر دغو پنځو مواردو پرېکړه وروستۍ شوې او لاسلیک ته تیاره ده.
په ورته وخت کې د دغه کمېسیون د ویاند مرستیال محمد رضاء فیاض ویلي، د استیناف غوښتنې د دوسیو ډلبندۍ په ۲۱ ولایتونو کې پای ته رسېدلې او په نورو ولایتونو کې به په نږدې راتلونکي کې پای ته ورسېږي.
هغه ویلي: «د وروستیو راپورونو له مخې، ډلبندۍ په ۲۱ ولایتونو کې پای ته رسېدلې او په محدودو ولایتونو کې پاتې چې کار پرې دوام لري.»
د یادونې ده چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د تلې د شپږمې د ولسمشریزو ټاکنو اړوند په ۲۹ ولایتونو کې څه باندې ٦۲۰۰ استینافي شکایتونو تر لاسه کړي او د ډلبندۍ بهیر یې تېره اونۍ پیل شوی دی.
دا په داسې حال کې ده چې په کابل کې د امریکا د سفارت شارژ دافیر راس ویلسن د پنجشنبې په ورځ پر خپلې ټویټرپاڼې له ټاکنیزو کمېسیونونو غوښتي، چې په همغږۍ او روڼوالي سره کار وکړي چې رایه ورکوونکي د ټاکنو پر پایلو باوري شي.

---

# راپورونه: په چین کې د کرونا ویروس له کبله د وژل شویو کسانو شمېر ۲۵۹ ته رسېدلی




د راپورونو له مخې، په چین کې د کرونا ویروس له کبله د وژل شویو کسانو شمېر ۲۵۹ ته لوړ شوی دی.
د دغه هېواد د روغتیا برخې چارواکو ویلي چې په تېرو دوو ورځو کې د کرونا ویروس ۲۱۰۲ تازه مثبتې پېښې هم ثبت شوې دي. د دوی په خبره، اوسمهال په چین کې پر دغه ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۱۷۹۱ ته رسېدلی دی.
دا په داسې حال کې ده چې د کرونا په نامه وژونکی ویروس لومړی ځل د چین له ووهان ښار څخه خپور شو چې اوسمهال د دغه هېواد پر ډېرو ښارونو سربېره، د انگلستان، امریکا او استرالیا په گډون، د نړۍ ۱۵ هېوادونو کې خپور شوی دی.
د امریکا متحده ایالتونو له چین څخه دغه هېواد ته د بهرني کس راتلل ممنوع اعلان کړي او همدارنگه د امریکا ټول هغه وگړي چې د چین له ووهان ښار ه دغه هېواد ته راستنېږي، دوې اونۍ به په قرنطین کې وي.
متحده ایالتونو په دغه هېواد کې د روغتیا بېړنۍ حالت اعلان کړی او ویلي یې دي چې هغه بهرنیان چې په دې وروستیو کې چین ته تللي دي، هغوی به پرې نږدې چې امریکا ته داخل شي.
د چارواکو په خبره، هغه امریکایان چې د چین له نورو برخو متحده ایالتونو ته ستنېږي، د هغوی روغتیایي معاینات به په هوایي ډگرونو کې کېږي او دا کسان به په خپلو کورونو کې د څوارلس ورځو په مخه ایسارېږي.
دغه راز د روغتیا برخې متخصصین خبرداری ورکوي چې که د دغه ویروس د مخنیوي لپاره اړین تدابیر ونه نیول شي، ډېر ژر به لوی بشري ناورین رامنځ ته کړي. د برېټانیا د روغتیا برخې متخصص کرېسټن نیوواک ویلي چې که څه هم په نړیواله کچه د دغه ویروس د له منځه وړلو لپاره هڅې چټکې شوې، خو د هغه په خبره، که د دغه ویروس د خپرېدو لپاره نړیوالې ادارې لاس پکار نه شي، ډېر ژر به د نړۍ ټولو برخو ته ورسېږي.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

## زرین قانون له تاسو پیل کېږي




**زه باور غواړم!**

لیکوال جورج مک ډونالډ ویلي:((باور ګټل د مینې تر ګټلو لویه لاسته راوړنه ده.)) ما په خپل کتاب «د رهبرۍ اصولو » کې ویلي چې باور د رهبرۍ اساس او بنسټ دی. دا خبره په خپل ځای سمه ده؛ خو موږ یې داسې هم ویلی شو چې باور د ښو اړیکو اساس او بنسټ هم دی. ښه ګډ ژوند، ښې کاروباري اړیکې او ښه ملګري ... ټول باور غواړي. که تاسو باور ونه لرئ، نو څوک ازاد او صمیمي تعامل نشي درسره کولای او اړیکه به لنډمهاله وي.

مانچستر په فیلاډیلفیا ایالت کې یوه مشورتي اداره ده. دوی تر ( ۲۰۰ ) ډېرو شرکتونو باندې سروې کړې وه او هغه لارې چارې یې لټولې وې چې له کارکوونکو سره په اړیکو کې باور پرې پیدا کېدای شوای. دوی ومونده، کوم خلک چې باور پالي:

- شفافیت او ربښتینولي ساتي.
- پر ارزښتونو او لیدلورو ازادې خبرې اترې کوي.
- کارکوونکو ته د مساوي شرکت په څېر درناوی کوي.
- د شخصي اجنډاوو پر ځای پر ګډو موخو ډېر تمرکز کوي.
- سم کار کوي او شخصي خطر او زیان ته پکې نه ګوري.
- خبره په پراخه او پرانیستي ذهن اوري.
- شفقت ښیي.
- باورونه رامنځته کوي (۴)

تاسو دا نه شئ کنټرولولای چې خلک درباندې باور کوي که نه؛ خو له هغو خلکو سره خپلې چارې او چلندونه کنټرولولای او دا ژمنه کولای شئ چې هغوی ته به خپل باور ورکوئ. د امریکا د بهرنیو چارو پخواني وزیر هنري ایل ستمسن ویلي:((ما له خپل ژونده تر ټولو لوی سبق دا زده کړی چې د یوه کس د باور وړ کولو یوازینۍ لاره پر هغه باور کول دي او د بې باوره کولو تر ټولو ښه لاره یې هم دا ده چې بې باوره یې کړئ او داسې وښیئ چې باور نه پرې کوئ.))

پر نورو باور کول ژور ایمان غواړي، خصوصا پر هغو چې سم یې نه پېژنئ. د زرین قانون پلي کول همدا غواړي. تاسو پر نورو خلکو هغسې باور وکړئ لکه څنګه چې له نورو خلکو پر خپل ځان باور غواړئ. دا خبره کامیلو بینسو دی کاور په اسانه الفاظو کې کړې ده:((که څوک پر یوه چا باور وکړي، نو تر هغه کس به لږې تېروتنې وکړي چې باور پرې نه کوي.))

**۳. زه درناوی غواړم!**

پر ما چې څوک باور وکړي، نو زه واک او مسئولیت ترلاسه کوم. څوک چې پر ما باور وکړي، نو زما باطن لمس کوي. زما عزت کوي. په ما کې باور پیدا کوي. هندي جنرال او د المپیک لوبو اتل دلیپ سنګ ویلي:((څوک چې د خپل او د نورو د ژوند درناوی نه کوي، ځان پخپله د یوه انسان په توګه له درناوي بې برخې کوي.))

څه وخت مخکې مې د یوه ځوان کیسه لوستله، دا ځوان په درویشت کلنۍ کې د خپلې کلیسا مشر کاهن شو. له دې تجربې سره ډېر ناځاپي او تر وخت مخکې مخ شو، ځکه دی باید د داسې خلکو روحاني رهبر شوی وای چې د بچو او لمسو پرځای یې و. کیسه راته جالبه وه، لکه په ځوانۍ کې چې ما کار پیلاوه، زه هم له همداسې حالت سره مخ شوی وم. هغه دا حالت څنګه قابو کړ؟ ده خلکو ته درناوی کاوه او ورته وې ویل چې له ماسره صمیمي چلن وکړئ. ده ټولو ته خپل معیارونه روښانه کړي وو، د درناوي لس اصول یې شریک کړي وو چې دی ورته ژمن و او له خلکو یې هم د همدې تمه درلوده، اصول یې دا دي:

١. که له ما سره مو کار و یا کومه ستونزه وه، ما ته (شخصي) راشئ.
٢. که زه له تاسو سره کار یا ستونزه ولرم، زه به (شخصي) درځم.
٣. که له ما سره څوک کار یا ستونزه لري او تاسو ته درځي، ما ته یې را ولېږئ (زه به هم همداسې کوم.)
٤. که هغه کس ستاسو په ټینګار هم ما ته نه راته نو ورته ووایئ:((راځه چې دواړه ورشو، زه باور لرم چې په دې اړه به راسره وګوري.) (زه به همداسې کوم.)
٥. زما د خبرو په تفسیر او تعبیر کې دقت کوئ او زه به یې هم کوم. که درته روښانه نه وي، نو پر ځان دا فشار مه راوړئ چې زما افکار یا احساسات تعبیر او تفسیر کړئ. ناوړه او ناسم تفسیر او تعبیر اسانه دی.
٦. زه چې تا تفسیر او تعبیروم ډېر احتیاط به کوم.
٧. که خبره محرمه وي، چا ته یې مه وایه. که تاسو یا بل څوک ما ته محرم راشئ، نو زه به راز ساتم او تر هغې به یې چا ته نه وایم چې تر څو:
٨. الف) هغه کس ځان یا بل ته زیان ونه رسوي؛ ب) کس بل ته فزیکي زیان نه رسوي؛ ج) کوم ماشوم فزیکي یا جنسي ونه ځورول شي. له تاسو هم ورته تمه لرم.
٩. زه بې لاسلیکه لیکونه او یادښتونه نه لولم.
١٠. زه پر چا تحمیل نه کوم او تحمیل نه منم، پر ځان د نورو تحمیل مه منئ؛ نورو ته دا اجازه مه ورکوئ چې ستاسو له لارې پر ما فشار راوړي.
١١. که شک لرئ وېې وایئ. که ما درته بې اشتبا یا له کوم راز افشا کولو پرته ځواب درکولای شوای، درکوم یې.

مشهور لیکوال ارنولد ګلاسو ویلي:((ته چې د چا درناوی کوې، دا درناوی تر هغې ستاینې ډېر غوره دی چې نور یې کوي.))

**دوام لري...**

# ملي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

◄ حمیدالله حمیدي



ملي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه په ۱۳۹۱ لمریز کال کې د ځینو علماوو او د پوهنتونونو د استادانو له خوا تاسیس شوې ده او له لوړو زده کړو وزارت سره ثبت او راجستر ده. دې موسسې په لومړي سر کې دوه پوهنځي معالجوي طب او حقوق او سیاسي علوم درلودل. د ملي د لوړو زده کړو خصوصي موسسې عمومي مسوول ښاغلی ډاکټر صداقت یعقوبي وایي، چې له هغه وروسته ورته په ۱۳۹۳ لمریز کال کې یو بل پوهنځی (ستوماتولوژي) هم منظور شوی دی.

د ښاغلي یعقوبي په خبره، د دې دریو پوهنځیو تر څنګ دوی د نیمه عالي زده کړو په برخه کې هم د (نرسنګ، قابلګي، د غاښو طب، طبي تکنالوژي او فارمسي) پوهنځي لري. د ملي د لوړو زده کړو موسسې په دریو عالي او پنځو نیمه عالي پوهنځیو کې عملاً محصلین چې ښځینه او نارینه دواړه پکې شامل دي، پر زده کړو بوخت دي.

په ملي د لوړو زده کړو موسسه کې اوسمهال د ۲۲۰۰ په شاوخوا کې محصلین پر زده کړو بوخت دي، چې له دې ډلې ۱۴۰۰ یې نارینه او پاتې یې ښځینه محصلین دي. د دې موسسې له معالجوي طب څخه تر اوسه درې دورې محصلین چې شمېر یې ۱۵۰ کسانو ته رسېږي د لېسانس په کچه فارغ شوي دي. له حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي څخه یې بیا اووه دورې محصلین فارغ کړي چې شمېر یې ۴۵۰ ته رسېږي. له ستوماتولوژي پوهنځي څخه یې دوې دورې محصلین فارغ کړي چې شمېر یې ٦۰ ته رسېږي. ډاکټر صداقت یعقوبي وایي، چې له نیمه عالي پوهنځیو څخه چې مخکې یې یادونه وشوه، د زرو په شاوخوا کې محصلین فارغ کړي دي. دی وایي چې ډېری محصلین یې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې په دولتي او غیر دولتي رغتونونو او نورو ادارو کې پر کار بوخت دي.

د دې موسسې د معالجوي طب او ستوماتولوژي په پوهنځیو کې د لوړو زده کړو وزارت د قانون او مقررې له مخې، درې ډېپارټمنټونه (بېسک ساینس، کلینیک او پارا کلینیک) لري. په حقوق او سیاسي علومو پوهنځي کې بیا دوه ډېپارټمنټونه (اداره او ډیپلوماسي او قضا او څارنوالي) لري.

د ملي د لوړو زده کړو موسسې عمومي مسوول وایي، چې د تدریس چارې یې د ۳۳ تجربه لرونکو استادانو له خوا مخ ته وړل کېږي. ښاغلی یعقوبي وایي چې ځینې استادان یې د پوهاند او پوهندوی تر کچې پورې علمي رتبې لري او د دوکتورا او ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې یې کړې دي. دی وایي چې د استادانو د ګومارنې په برخه کې یې د لوړو زده کړو وزارت ټول قوانین په پام کې نیولي دي او داسې استادان یې پر دندو ګومارلي چې په اړوند برخه کې تخصص او د تدریس کافي تجربه لري.

د ملي د لوړو زده کړو موسسې مسوول وایي، چې له تېرو دوو کلونو را پدېخوا یې له ځینو خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو له موسسو سره د دوو اړخیزو هوکړو سندونه لاسلیک کړي دي او اوس تازه یې د قلم په نوم د لوړو زده کړو له یوې بلې موسسې سره هم هوکړه لیک لاسلیک کړی دی. دی وایي چې د دې هوکړو له مخې، دوی وخت ناوخت خپلې تجربې او ستونزې له دې خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو له موسسو سره شریکوي او تر څنګ یې د هغوی له تجربو هم ګټه اخلي. دغه راز له هېواده بهر هم ملي د لوړو زده کړو موسسه په ترکیه او هند کې له دوو پوهنتونونو سره د دوو اړخیزو همکاریو هوکړې لري، چې له مخې به یې خپل محصلین او استادان د دکتورا او ماسټرۍ په پروګرامونو کې د ګډون او دغه راز د څېړنې او تجربو تر لاسه کولو او وړتیا لوړولو لپاره ور استوي.

ښاغلی یعقوبي وایي چې د موسسې له تاسیس سره سم یې کتابتون هم جوړ کړی دی، چې ورځ تر بلې یې د کتابونو شمېر هم زیاتېږي. دی وایي، د مطالعې لپاره د امنې فضا تر څنګ، په کتابتون کې د دوو زرو په شاوخوا کې په فزیکي ډول کتابونه او په همدې شمېر یا له دې څخه زیات په سافټ ډول کتابونه لري، چې محصلین او استادان یې کولای شي وخت ناوخت له دې کتابونو څخه د څېړنې او مطالعې لپاره ګټه واخلي. د دې تر څنګ یې محصلینو او استادانو ته د انټرنېټ اسانتیا هم برابره کړې ده، چې دوی کولای شي د کتابونو د مطالعې تر څنګ، د خپل مسلک اړوند نوي شیان ولټي او ګټه ترې واخلي.

د کتابتون تر څنګ، ملي د لوړو زده کړو موسسه د ښځینه محصلینو لپاره د ترانسپورټ سیسټم، د ښځینه محصلینو او استادانو د ماشومانو لپاره وړکتون، د ټولو محصلینو لپاره د نظري زده کړو تر څنګ د عملي، سمعي او بصري معلوماتو وړاندې کول، لابراتوارونه، د ورکشاپونو او سیمینارونو دایرول او له وخت وروسته د عربي او نګلیسي ژبو د زده کولو امکانات هغه څه دي چې د خپلو محصلینو لپاره یې برابر کړې دي.

ښاغلی صداقت یعقوبي وایي چې دوی د تخفیف کلمه سکالرشیف ته اړولې ده او په دې برخه کې یو ځانګړی کمېسیون لري، چې محصلین یې خپلې ستونزې او غوښتنې له دې کمېسیون سره شریکوي او وروسته بیا پرېکړه پرې کوي. دی وایي چې د ممتازو محصلینو، هغو محصلینو چې په خپل اړوند مسلک کې یې څېړنه او لیکنې کړې وي، ځانګړی تخفیف ورکوي. د دې تر څنګ، دغه موسسه د کار ټولنیزو چارو شهیدانو او معلولینو چارو وزارت سره یوه هوکړه لري، چې له مخې یې هغه محصلین چې د دې وزارت له لوري دوی ته ور معرفي کېږي، دېرش یا څلوېښت سلنه تخفیف ورکوي. دی وایي، داسې محصلین هم ور سره شته چې سل سلنه تخفیف یې ورکړی دی او په وړیا توګه لوړې زده کړې کوي.

ډاکټر صداقت یعقوبي وایي چې هڅه کوي څو فارغ شویو محصلینو ته پر وخت تحصیلي اسنادونه ورکړي او په دې برخه کې د موسسې اداره ناغېړي نه کوي. دی وایي چې په لوړو زده کړو وزارت کې د خصوصي پوهنتونونو په ریاست کې د کارکوونکو د کمښت او د خصوصي پوهنتونونو ډېرښت د دې لامل شوی، چې د محصلینو اسنادونه یو څه وځنډېږي. دی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې په دې ریاست کې تشکیل یو څه زیات کړي او محصلینو ته پر وخت تحصیلي اسنادونه ورکړل شي، څو د دندې په پیدا کولو، په کور د ننه او یا هم بهر کې د لا نورو لوړو زده کړو په برخه کې چې د دوی اساسي حق بلل کېږي، ګټه ترې واخلي.

د تضمین کیفیت له ارزونې څخه بریالي راوتل، په ملي او نړیواله کچه د اعتبار تر لاسه کول، د نویو پوهنځیو ایجادول او د لوړو زده کړو له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول د ملي د لوړو زده کړو موسسې د اداري موخې او راتلونکي پلانونه دي.

د ملي د لوړو زده کړو موسسې اداره لویه ستونزه چې هغه نه یوازې د دوی؛ بلکې د ټول هېواد لپاره ستونزه بولي، هغه د امنیت نشتون دی. د دې تر څنګ، دغه اداره له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې د طب او ستوماتولوژۍ د پوهنځیو د محصلینو لپاره یې په دولتي رغتونونو کې د سه تاج دورې امکانات برابر کړي او ځینو محصلینو ته د لا نورو لوړو زده کړو په برخه کې بورسونه ورکړي. ښاغلی یعقوبي وایي چې که لوړو زده کړو وزارت ټولو خصوصي پوهنتونونو ته د کابل ښار په یوه ستراتیژیکه سیمه کې د ودانیو جوړولو امکانات برابر کړي، له یوې خوا به پوهنتونونه د خپل ملکیت درلودونکي وي او له بلې خوا به د پوهنتونونو لپاره معیاري ودانۍ ولري، ځکه اوس ډېری پوهنتونونو په کرایي کورونو کې خپلې چارې مخ ته وړي. دوی کمه خو په ګرانه بیه برېښنا هم یوه ستونزه یادوي، ځکه د دوی محصلین د عملي زده کړو لپاره په لابراتوارونو کې دایمي برېښنا ته اړتیا لري.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦,٦٠ |
| € | ٨٤,٧٠ |
| Rp. | ٤٨٧ |
| ₹ | ١٠٩٠ |
| ¥ | ١١,١٠ |
| £ | ٩٧ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# احساس ارزشمندی چیست و چطور می‌توانیم آن را تقویت کنیم؟

احمد فردوسی

از میان همه مفاهیم مربوط به «خود»، احساس ارزشمندی یا ارزشمند دانستن خود، مهم‌ترین است. اعتماد به نفس، عزت نفس، عشق به خود، احترام به خود و دیگر مفاهیم مشابه، همگی بااهمیت هستند؛ اما بنیان همهٔ آنها احساس ارزشمندی است. با ما همراه باشید تا ببینید احساس ارزشمندی چیست و چطور باید ارزش خودمان را درک و تقویت کنیم.

**احساس ارزشمندی چیست؟**

به بیان ساده، احساس ارزشمندی میزان اهمیتی است که برای خود قائل هستیم، دورنمایی احساسی از خودمان که مشخص می‌کند در مقایسه با دیگران چه احساسی درباره خودمان داریم و دلیل آن چیست. احساس ارزشمندی بخشی بنیادی از وجود ماست و برداشت ما از خودمان را شکل می‌دهد. هرآنچه درباره‌شان فکر می‌کنیم، هر احساسی که داریم و حتی چگونگی رفتار ما محصول ارزشی است که خودمان به خودمان می‌دهیم. احساس ارزشمندی موضوع حساسی است. در ادامه، توصیه‌هایی برای شناسایی ارزش خودتان ارائه می‌کنیم.

**نظریه احساس ارزشمندی**

بسیاری از آدم‌ها فقط وقتی احساس ارزشمندی می‌کنند که به موفقیت خاصی می‌رسند. بر مبنای نظریه احساس ارزشمندی (self-worth theory)، انسان با دستیابی به اهداف خود در زندگی، خودش را به رسمیت می‌شناسد. توانمندی، قاطعیت، عملکرد و عزت‌نفس عناصر این نظریه هستند. این چهار عنصر در ترکیب با یکدیگر مشخص می‌کنند ما چه نگاهی به خودمان داریم. هرچند دستاوردها و موفقیت‌ها باارزش‌اند، آیا این اندازه اهمیت‌دادن به آنها درست است؟ آیا بهتر از دیگران بودن، تنها چیزی است که باعث می‌شود به خودمان ارزش بدهیم؟ چه چیزی واقعاً حس ارزشمندی را به ما القا می‌کند؟

**معنی واقعی احساس ارزشمندی**

شاید پذیرش خودمان همان‌گونه که هستیم، بدون دارایی چشمگیر یا شغل رؤیایی‌مان، دشوار باشد. این پذیرش برای برخی چنان دردناک است که هر کاری می‌کنند تا از آن فرار کنند. این احتمال هم وجود دارد که برخی افراد از خودآگاهی بترسند! طبیعی است که انسان از چنین درد و ترسی فرار کند. اما این فرایند برای کشف ارزش خودمان ضروری است و نباید از زیر آن در برویم. در پس پرده هر احساس به‌ظاهر دردناکی، به رهایی بی‌پایان می‌رسیم. نخستین گام در این مسیر، خودآگاهی است. خودآگاهی کلید دستیابی به احساس ارزشمندی است.

همه ما تصویری از کسی را که می‌خواهیم باشیم، در ذهنمان داریم. گاهی این تصویر با خود واقعی ما یکسان نیست. داشتن اهداف مختلف و جاه‌طلبی خوب است؛ اما هرگز نباید بگذاریم رؤیاهایمان باعث شوند خود واقعی‌مان را کتمان کنیم. انکار خود دشمن احساس ارزشمندی است. میل به انکار است که خودآگاهی را دشوار می‌کند. بسیاری افراد نمی‌خواهند از تصورشان درباره خودشان فاصله بگیرند. آنها نمی‌خواهند خود واقعی‌شان را بپذیرند.

ارزش‌دادن به خود چیز بدی نیست. این کار باعث می‌شود ضعف‌هایمان را بپذیریم و بر توانایی‌هایمان تمرکز کنیم. گاهی ما از خیلی از ویژگی‌های مثبت خودمان آگاه نیستیم. خودآگاهی کمک می‌کند آنها را کشف کنیم. در مسیر ارزش‌دادن به خود، می‌توانیم بهترین دوست خودمان باشیم یا بدترین دشمن‌مان. با تعویق خودآگاهی، در واقع، رهایی و بهبود را به تأخیر می‌اندازیم. احساس ارزشمندی وقتی حاصل می‌شود که بدانیم که هستیم و چه ویژگی‌های مثبتی داریم.

**عوامل مؤثر رایج در سنجش ارزشمندی**

عناصر چهارگانه‌ای که پیش‌تر به آنها اشاره شد، تنها عوامل تعیین‌کنندهٔ احساس ارزشمندی نیستند؛ عوامل فراوان دیگری هم در میزان ارزشی که فرد برای خودش قائل است، مؤثرند، عواملی مانند بحران‌های کودکی، نمرات پایین و حتی قلدری. رایج‌ترین عواملی که انسان بر اساس آنها میزان ارزشمندی خودش را تعیین می‌کند، عبارت‌اند از:

**۱. دایره روابط**

خیلی وقت‌ها، آدم‌ها بر اساس تعداد افراد مهمی که می‌شناسند و با آنها رابطه نزدیک دارند، اعتبار خودشان را تعیین می‌کنند.

**۲. نمود فزیکی و احساسی**

قضاوت و اعتبارسنجی افراد بر پایه نمود بیرونی آنها در همه ما رخ می‌دهد. اینکه مردم چه می‌پوشند، چطور صحبت می‌کنند و جامعه چه فکری درباره آنها می‌کند، برای افراد مهم است.

**۳. حرفه**

شغل و حرفه در ارزش‌گذاری آدم‌ها مؤثر است. ممکن است فردی در برخورد با پرستارها سرد باشد، اما با داکتران رفتاری دوستانه داشته باشد؛ زیرا باور دارد داکتر آدم موفق‌تری است! حرفه افراد اغلب در تعیین اهمیت زندگی آنها نقش دارد.

**۴. دارایی**

میزان دارایی، از میزان حقوق گرفته تا تعداد و نوع ماشین‌تان، یکی دیگر از عواملی است که در سنجش ارزش خود مؤثر است. معمولاً دارایی مادی مدنظر است.

**چه‌چیز را نباید احساس ارزشمندی بدانیم؟**

باورهای نادرست بسیاری درباره ارزشمندی آدم‌ها وجود دارند. این باورها باعث می‌شوند برخی آدم‌ها برای خودشان ارزشی کمتر از لیاقت شان قائل شوند؛ مثلاً دارایی مادی را در حقیقت نباید شاخصی برای ارزشمندی افراد دانست.

**ارزش انسان ربطی به حرفه ندارد**

حرفه ما نباید در ارزشی که برای خودمان قائلیم، تأثیرگذار باشد. خیلی وقت‌ها افرادی با مهارت‌ها و توانمندی‌های بالا، شغل مناسبی پیدا نمی‌کنند؛ بنابراین مجبور می‌شوند در جایگاهی پایین‌تر کار کنند. این وضعیت چیزی از مهارت‌ها و توانمندی‌های آنها کم نمی‌کند. پس چرا باید ارزش فرد بر اساس شغل و حرفه‌اش تعیین شود؟ تنها موردی که مهم است میزان رضایت شغلی است.

**ارزش انسان ربطی به دستاوردها ندارد**

موفقیت ارزشمند است، اما نباید در سنجش ارزش خودمان تأثیرگذار باشد. هیچ عنوان، گواهی یا مدالی نمی‌تواند ارزش ما را تعیین کند.

**ارزش انسان ربطی به سن ندارد**

«سن فقط یک عدد است!» شاید این جمله کلیشه‌ای به نظر برسد، اما سن‌وسال ربطی به میزان آمادگی شما برای رویارویی با رخدادها و حقایق ندارد. کافی است بخواهید و تصمیم بگیرید.

**ارزش انسان ربطی به زندگی عاشقانه‌اش ندارد**

داشتن احساس خوب درباره خودمان با این دلیل که شخص دیگری حس خوبی درباره ما دارد، فریبنده است. اما چه می‌شود اگر آن فرد ترک‌مان کند؟ چه مجرد هستید و چه نه، رابطه عاطفی را مبنای ارزش‌گذاری خودتان قرار ندهید.

**ارزش انسان ربطی به نمره‌ها و رتبه‌ها ندارد**

کم‌هوش‌ترین فرد صنف هم که باشید، ارزش‌تان کمتر از باهوش‌ترین آدم صنف نیست. شما ویژگی‌هایی دارید که شاید از برخی ویژگی‌های بهترین شاگرد صنف هم برتر باشند.

**ارزش انسان ربطی به سلامتی ندارد**

شاید بیماری ها روحیه‌مان را تضعیف کنند. افراد مثبت اندیش معمولاً زودتر بهبود پیدا می‌کنند؛ پس مثبت اندیشی را فراموش نکنید. فراتر از این، سلامتی ما را آدم ارزشمندتری نمی‌کند.

**ارزش انسان ربطی به وضعیت مالی ندارد**

آدم‌ها را نباید با پول و دارایی مادی‌شان ارزش‌گذاری کرد! اگر از وضعیت راضی هستید و از عهده مخارج زندگی برمی‌آئید، پس مشکلی وجود ندارد.

**ارزش انسان ربطی به سلیقه ندارد**

به‌نظر دیگران، برای این دوره و زمانه زیادی سنتی هستید؟ نظر دیگران اهمیتی ندارد. مهم این است که خودتان با این موضوع مشکلی نداشته باشید.

**اهمیت احساس ارزشمندی**

بهترین مزیت آگاهی از ارزش خودمان، تأثیری است که بر رفتار ما دارد. احساس ارزشمندی بر کارها و انتخاب‌های آگاهانه ما تأثیر می‌گذارد. احساس ارزشمندی باعث می‌شود از آنچه در زندگی‌مان تأثیر منفی دارد، دوری کنیم و پذیرای چیزهایی باشیم که ما را به آدم بهتری تبدیل می‌کنند.

احساس ارزشمندی همان چیزی است که باعث می‌شود حتی بدون موفقیت، پول و دارایی باز هم خشنود باشیم. وقتی به سطح سالمی از احساس ارزشمندی برسیم، زندگی معنای بیشتری پیدا می‌کند!

**چطور ارزش خودمان را تشخیص دهیم؟**

سرانجام خودآگاهی را پذیرفتید؛ اما حس خوبی درباره خودتان ندارید. هیچ ویژگی قابل‌توجهی در خودتان نمی‌بینید. فکر می‌کنید آدمی معمولی هستید که هیچ‌چیزی برای عرضه به دیگران ندارید! احساس می‌کنید نیاز دارید ارزش‌تان تائید شود. می‌خواهید دستاوردی داشته باشید. حتی دلتان می‌خواهد آزمونی برای سنجش ارزش انسان وجود داشته باشد. اما باید بدانید احساس ارزشمندی از درون انسان جان می‌گیرد.

دوباره تأکید می‌کنم که احساس ارزشمندی برآمده از ارزشی است که خودتان به خودتان می‌دهید. همین که وجود دارید، به‌اندازه کافی ارزشمند است!

**قدرت گرفتن**

قدرت ناشی از کشف ویژگی‌هایی است که در آنها سرترید! این ویژگی‌ها در هنگام خود کم بینی همیشه به ما یادآوری می‌کنند چه ارزش‌هایی داریم. لازم نیست به‌دنبال چیزهای بزرگ باشید. به فهرستی از استعدادها، چیزهایی که در خودتان می‌پسندید و شما را برجسته می‌کنند، چالش‌هایی که پشت‌سر گذاشته‌اید، کمک‌هایی که به دیگران کرده‌اید و نکته‌های چشمگیر دیگر فکر کنید. قدرت شما در همین موارد پنهان شده است.

## د بشري حقونو کمېسیون: حکومت دې د ملکیانو د مرگ ژوبلې د څېړنو پایلې له ولس سره شریکې کړي

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویلي چې د ملکیانو د مرگ ژوبلې د څېړنې لپاره گومارل شوي کمېسیونونه دې خپل معلومات له ولس او د قربانیانو له کورنیو سره شریک کړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په ټول هېواد کې په هوایي بریدونو او ځینیو عملیاتو کې د ملکیانو مرگ ژوبله په بې مخینې توگه زیاته شوې او حکومتي چارواکي یې بیا په غبرگون کې د پېښو د څېړنو لپاره پلاوي ټاکي. خو د حکومت دغه کړنه د قربانیانو د کورنیو او د بشري حقونو د مدافعو بنسټونو له جدي نیوکو سره مخ شوې او دوی ټینگار کوي چې د یادو پېښو د څېړنو پایلې دې له دوی او ولس سره شریکې شي.

د راپورونو له مخې، په دې وروستیو کې په بغلان، کندوز، اروزگان، زابل او نورو ولایتونو کې د هوایي بمباریو له کبله لسگونو کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.

تر دې مخکې تېره شنبه ناوخته په بلخ ولایت کې په یوه هوایي برید کې د ښځو او ماشومانو په گډون، د شپږو ملکیانو د وژل کېدو راپور ورکړل شوی و.

د بلخ امنیه قوماندانۍ ویلي، د بلخ ولسوالۍ په بوکه کلي کې د بمبارۍ له کبله په وژل شویو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي.

دفاع وزارت تر پېښې وروسته سیمې ته د حقیقت موندنې د یوه کمېسیون د لېږلو خبره وکړه.

د دغه وزارت مرستیال ویاند زبیر عارف وویل چې تر دې دمه د کمېسیون څېړنې نه دي بشپړې شوې.

هغه زیاته کړې: «زموږ پایلې تر اوسه بشپړې شوې نه دي، ټیم اوس هم لگیا دی پر دې موضوع باندې کار کوي، بېلابېل ټیمونه ورغلي، چې لوړ پوړو چارواکو هم په کې گډون کړی و، تر اوسه راپور بشپړ شوی نه دی، کله چې بشپړ شي له تاسو ټولو سره به شریک شي.»


د حکومت له خوا گومارل شوی د حقیقت موندنې کمېسیون په بلخ کې وروستۍ پېښه په داسې حال کې څېړي، چې تر دې مخکې هم خلکو ته د ملکیانو د وژل کېدو د څېړنې په موخه د بېلابېلو کمېسیونونو د گومارلو خبر ورکړل شوی، خو پایلې یې بیا نه دي په ډاگه شوې.

په ورته وخت کې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویلي، د دغه ډول کمېسیونونو د څېړنو وروستۍ پایلې له چا سره نه شریکېږي.

د دغه کمېسیون کمېشنر او ویاند شکرالله مشکور ویلي: «دې ته په ورته پېښو کې د حکومت له خوا د حقیقت موندنې کمېسیونونه گومارل شوي دي، چې متاسفانه د دغو کمېسیونونو موندنې او راپورونه له ولس، د قربانیانو له کورنیو، رسنیو او د بشري حقونو له خپلواک کمېسیون سره نه دي شریک شوي.»

مشکور زیاته کړې، د دې لپاره چې د ملکیانو د وژنې د عاملانو پر وړاندې د حکومت د اقدام اراده په ډاگه شي، باید د کمېسیونو د څېړنې پایلې له خلکو سره شریکې شي.

Maseer
Daily
New Vision, New Journey




یکشنبه د ۱۳۹۸ د سلواغې ۱۳مه | د ۲۰۲۰ د فبروري دویمه | ۵۰۶مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٤ | ١٦ | ١٧ | ١٦ | ١٨ | ١٥ |
| -٥ | ٠ | ٥ | ٥ | ٤ | ١ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۸ | لمر ختل ۰۶:۵۵ | ماسپښین ۱۲:۰۷ | مازیگر ۰۲:۵۷ | ماښام ۰۵:۱۸ | ماخوستن ۰۶:۴۵

## نړۍ



**راپورونه: په چین کې د کرونا ویروس له کبله د وژل شویو کسانو شمېر ۲۵۹ ته رسېدلی**

۳

## قریشي: سعودي په تېرو پنځو کلونو کې ۲۸۵زره پاکستانیان را شړلي



د پاکستان حکومت ویلي، سعودي عربستان په تېرو پنځو کلونو کې ۲۸۵زره پاکستانیان له خپلې خاورې شړلي.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي ویلي چې دا پاکستانیان د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۹ ز کلونو په منځ کې خپل هېواد ته شړل شوي دي.

د امریکا غږ ډېوې څانگې د پاکستان د حکومتي اداري (ای پي پي) په حواله لیکلي، چې قریشي د دغه هېواد سنا ته په خپلو خبرو کې دا معلومات ورکړي دي.

قریشي ویلي: «سعودي عرب دا پاکستانیان د استوگنې کار د مودې ختمېدو، بغیر اجازت څخه د حج کولو، غلا کولو، د نشه یي توکو ساتلو او د خپل وخت نه د زیاتې مودې د پاتې کېدو له سببه راویستلي دي.»

د راپورونو له مخې، دغه پاکستانیان د سعودي عربستان په بېلابېلو ښارونو کې اوسېدل چې ډېری د کار لپاره هغه هېواد ته تللي دي. د سرچینې په خبره، تر ټولو ډېر پاکستانیان په ۲۰۱۵ ز او ۲۰۱٦ ز کلونو کې شړل شوي چې شمېر یې ۱۳۴ زره کېږي.

د دې تر څنگ، دا مهال څه باندې ۲۱۰۰ پاکستانیان د سعودي په زندانونو کې دي. د یادونې ده چې د پاکستان حکومت تېر کال ویلي وو چې د سعودي حکومت ورسره ژمنه کړې چې دغه زندانیان به بېرته ازادوي، خو تر اوسه یې په دې اړه څه نه دي کړي.

## نیویورک: امریکا له روسیې سره جگړې ته د چمتووالي په موخه تمرینونه ډېر کړي

نیویورک نشریې په اروپا کې د ناټو پرله پسې نظامي مانورونو ته په اشارې ویلي، چې امریکا له روسیې سره یو بل جنگ ته د چمتووالي په حال کې ده.

نشریې لیکلي، امریکا تېر کال له ایران سره د کړکېچ په اوج کې په بې ساري توگه نظامي مانورونه کړي او په پنځو میاشتو کې یې تر ۹۳ ډېر نظامي تمرینونه تر سره کړي دي.

د سرچینې په خبره، د همدې مانورونو پر مهال روسیې په وار وار د اندېښنې په څرگندولو سره په پټه خپلې استخباراتي الوتکې هم خپلو پولو ته استولي او یاد تمرینونه یې له نږدې څارلي دي. د سرچینې په خبره، په دغو تمرینونو کې چې له ځمکنۍ جگړې تر سایبري بریدونو پورې د هر څه احتمال پکې و، په ښکاره داسې ویل کېدل چې د ایران پر ضد دي، خو په اصل کې د دې مانورونو هدف ایران نه، بلکې روسیه وه.

نیویورک د امریکا د هوایي ځواکونو محرمانه اسناد ته په اشارې چې ترې څرگندېږي د ناټو فعالیتونه درې برابره ډېر شوي، د خپل راپور په پای کې لیکلي چې دا د دې ښکارندویي کوي چې سړه جگړه بیا پیښېدونکې ده.

## شورای ولایتی بادغیس: در حملهٔ هوایی در ولسوالی مقر این ولایت، سه عضو یک خانواده کشته شدند



رئیس شورای ولایتی بادغیس، ادعا می‌کند که شب جمعه در یک حملهٔ هوایی در ولسوالی مقر این ولایت، سه عضو یک خانواده به‌شمول دو کودک و یک زن کشته شدند.


عبدالعزیز بیک، رئیس شورای ولایتی بادغیس گفته است که قربانیان این حملهٔ هوایی به شفاخانه انتقال داده شده‌اند: «صبح که به شفاخانهٔ ریاست صحت عامه رفتم، آن‌جا سه جسد را من دیدم که دو طفل و یک خانم بود.» اما، عبدالغفور ملکزی، والی بادغیس می‌گوید که در این حملهٔ هوایی، پنج تن از اعضای گروهٔ طالبان کشته شدند. والی بادغیس می‌افزاید که این غیرنظامیان دو کودک و یک زن در نتیجهٔ انفجار یک ماین جان باخته‌اند: «گزارش رسمی وجود دارد و گزارش دقیق وجود دارد. این‌را [تلفات غیرنظامیان در حملهٔ هوایی] مطلق رد می کنیم؛ آن‌ها از اثر [انفجار] ماین شان کشته شده‌اند.»

در همین حال، کمیسیون حقوق‌بشر از افزایش تلفات غیرنظامیان در حمله‌های هوایی نیروهای دولتی افغانستان و نیروهای بین‌المللی ابراز نگرانی می کند. بهزاد حکاک، مسؤل بخش نظارت کمیسیون مستقل حقوق‌بشر افغانستان اظهار داشت: «به هر میزانی که مردم آسیب ببینند در منازعات، قوانین جنگی رعایت نمی‌شود حقوق‌بشر نقض می‌شود، به همان میزان مشروعیت نظام زیر سوال می‌رود.»

سازمان عفو بین‌الملل نیز می‌گوید که طرف‌های درگیر جنگ در افغانستان به قوانین جنگی حرمت نمی‌گذارند و به همین علت تلفات غیرنظامیان در درگیری‌های اخیر میان نیروهای دولتی و مخالفان مسلح حکومت افغانستان، بیشتر شده‌است.

## ژوند

## کورنۍ ستونزې اروایي ناروغۍ زیږوي



د ښځې او خاوند تر منځ سمې او روغې اړیکې د خوشاله ژوند راز دی؛ خو که دا اړیکې سمې ونه اوسي، د وینې د فشار تر څنگ، د ډېرو روغتیایي ستونزو لامل کېږي. د امریکا په مشیگان پوهنتون کې په یوه تازه څېړنه کې ثابته شوې، هغه مېړونه او ښځې چې یو له بل سره سمې اړیکې نه لري، پر اروایي ستونزو سربېره، د وینې پر لوړ فشار هم اخته کېدای شي. څېړنه کې راغلي چې نارینه نسبت خپلې مېرمنې ته ژر پر یادو ناروغیو اخته کېدلای شي. دوی دا دلیل راوړي، چې نارینه د ښځو پر وړاندې حساس وي. ژور خفگان، د زړه ناروغۍ او ځینې نور هم د مېرمنې او خاوند له ناسمو اړیکو څخه سرچینه اخلي. خو اوس پوښتنه دا ده چې څنگه دا اړیکې ښې وساتو؟

له مېړه/مېرمنې څخه له کچې زیاته تمه مه کوئ. دا چاره اړیکې زیانمنوي. د تفاهم نشتون هم اړیکې خرابوي. کوښښ وکړئ چې یو او بل درک کړئ. که غواړئ خوشاله او سالمې اړیکې ولرئ، نو سوله وکړئ او یو بل ته سره تېر شئ.

## ډېر گرم څښاک او خواړه د بدن لپاره خطرناک دي

د نړۍ طبي کارپوهانو په یوه تازه څېړنه کې ثابته کړې، چې ډېر تود یا گرم چای څښل د بدن لپاره زیان رسوونکی دی. د روغتیا نړیوالې ادارې (ډبلیو ایچ او) یوې څانگې ویلي، چای یا کافي او یا نور څښاک چې د تودوخې درجه یې له ٦۵ لوړه وي، د دې خطر یې ډېر زیات دی چې په څښلو سره یې د انسان په بدن کې د سرطان خطر رامنځ ته شي. د ملگرو ملتونو د نړیوالې ادارې تر څار لاندې اداري ویلي، چې دا څېړنه په ایران، چین، ترکیه او جنوبي امریکا کې تر سره شوې ده، ځکه په دې هیوادونو کې خلک دومره گرم چای څښي، چې د تودوخې درجه یې ۷۹ سانتي گریده وي.



باید وویل شي چې څېړونکو ویلي چې چای باید لومړی تر څلورو دقیقو پورې یخ کړی او بیا یې وڅښئ. څېړونکي په دې اند دي چې د خولې، ژبې، مرۍ او معدې د سرطانونو اصلي لاملونه د گرمو خوړو او یا څښاکو کارول دي. نو که غواړئ له دې ناروغۍ په امن کې پاتې شئ، گرم خواړه او څښاک مه کاروئ.

